استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

عبدل قیوم ۱۹جولای، ۲۰۲۲

# ۱۳۵۲د چنګاښ ۲۶ د بد مرغیو پیل وو.

## سردار محمد داود خان او داود خانی له ۱۳۵۲ ــ ۱۳۵۷هـ پوري

د خفګان هیڅ خبره نسته، و به ګورو چي ښاغلی سردار محمد داود خان څوک وو؟ څونه زده کړي یې کړي وې؟ کومي دولتي دندي یې لرلې؟ څنګه یې پر خپله کورنۍ د ۱۳۵۲ هجري کال د چنګاښ پر(۲۶) نیټه باندي کودتا  وکړه او د چا په مټ یې کودتا وکړه؟ څنګه یې کورنی ووژل سوه؟ په دې لیکنه کي به دغو پښتنو جوابونه تر لاسه کړی، له تاسو هیله لرم چي په لیکنه کي نواقیصو ته مي متوجي کړی څو نواقص  اصلاح یې کړم. د سردار محمد داود خان پر وطن دوستی شک نه لرم، دوطن له ابادۍ سره یې لیونی مینه هم لرل. خو تر حد ډېر ځان غوښتونکي، مغرور، بې مطالعي، په سیاست او مشرتوب هیڅ نه پوهېدی. داود خان په هیواد کي تر ځان هوښیار او پر خپل ځان متکي افغان ته یې تل د دښمن په سترګه کتل حتا د هغوی د فزیکي نابودی په تلاښ کي به وو. زه د ۱۳۵۷ هجري کال د غواي د میاشتي د(۷) نېټي نظامي پاڅون انقلاب بولم او د ۱۳۵۲ هجري کال د چنګاښ د(۲۶) نیټي نظامي عمل بیا کودتأ بولم. د چنګاښ د ۲۶ نېټې (کودتا ) ته ځکه کودتا وایم چي یو د کاکا زوی خپل ځای بل د کاکا زوی ته خوشي کړ. مګر د غواي د ۷ نېټي نظامي پاڅون (انقلاب) وو.که څه د شکل له مخي نظامي عمل وو، خو په عمل کي یې و ښوول چي واک یې وه  یوه سیاسي ګوند ته انتقال کړ، په واقعیت کي واک له یوې طبقي څخه بلي طبقي ته انتقال سو.

که څه چي ټولي پېښي مي مخته تېري سوي دي بیا به هم د هیواد تاریخ پاڼو ته ورسو و به ګورو چي هلته څه لیکل سوي دي؟ سردارمحمد داود خان د سردارعزیزخان زوی، د سردار یوسف لمسی، د سردار عبدالقدوس خان کړوسی، د سردار یحیی خان کوسی، د سردارسلطان احمد طلا یی پردی او د سردار پاینده محمد له ربښي څخه وو. سردارمحمد داود خان په ۱۲۸۸ هجري شمسي

کال کي د کابل په شاهي کورنۍ کي زیږېدلی دی. په ۱۳۱۱هجري شمسي کال کي یعني کوم وخت چي ۲۲کلن وو د یوه کال د پاره فرانسي ته ولاړی، البته علاقمند خلگ یې تبلیغ کوي چي په فرانسه کي یې درس ووایه. (په یوه کال کي فرانسوی ژبه نه زده کېږي، درس ویل خو لویه خبره ده.)

په۱۳۱۳هجري، شمسي کال کي بېرته کابل ته راغلی د یوه کال لپاره یې د نظامي زده کړو په نوم ځان مصروف کړې، سم د ستي د یوه کال په تېرېدو سره لکه محمد ظاهر خان دی هم جنرال سوو(هغه نظامي زده کړي چي نور نظامیانو یې په لسو «۱۰» کلونو کي تکمیله وي ) سردارمحمد داود خان هغه زده کړي په نهو( ۹ ) میاشتو کي بشپړي کړې د حربي پوهنتون څخه د فراغت سند ورته جوړ او د برېد جنرال په رتبه مقررسوو. (داسي وي قانون، داسي وي انصاف، تردرېیم برېدمن، دوهم برېدمن، لومړی برېدمن، تورن، جگتورن، جگړن، ډگرمن او ډگروال، رتبو یې یو غټ گام وا ړاوه ) کوم چي نور نظامیان به په مشکل سره دشلو، پنځویشتو کلونو کار وروسته هم دغه مقام ته نه رسېده. ځکه د هري نظامي رتبي څخه بلي رتبي ته درې کاله وخت ضروري وو. لکه څنگه چي یې دلسو تعلیمي کلونو تعلمي سند په (۹) میاشتو کي پلاس راوړی په د غه شان یې د شلو(۲۰) کالونو کار او فعالیت رتبه هم مفته خپل ځان ته ورکړه.

برید جنران سردارمحمد داود خان د۲۴ کالو وو چي په ۱۳۱۴ هجري شمسي کال یعني یوکال یې لا په وظیفه کي پوره تیرکړی نه وه چي تورن جنرال سو، د کندهار(کندهار، هلمند، زابل، روزگان، فراه، نیمروز)نایب الحکومه او قوماندان د قول اردو له عام او تام صلاحیت سره مقررسو.

په ۱۳۱۷ هجري کي د مشرقي ولایاتو (جلال آباد، لغمان، کنړ، نورستان) نایب الحکومه او قوماندان قول اوردو سو، په ۱۳۱۸هجري شمسي کي قوماندان قوأ یې مرکز او قوماندان د حربي ښوونځی سو، په ۱۳۲۵ هجري شمسي کي د مملکت د دفاع وزېر وتاکل سو. په ۱۳۲۶ هجري شمسي کي په فرانسه کي سفیر سو، په ۱۳۲۸ بیا هیواد ته راغلی او د دفاع وزیرسوو، په ۱۳۳۲هجري، شمسي کال کي صدراعظم سوو.

د سردار محمد داود خان دا قوت، زور، حق او صلاحیت له کمه وو؟ ټول پوهیږو. ایا هغو ټولو میندي او پلرونه کورنۍ او لادونه نه لرل چي ده د وظیفو څخه شړل، نیول، بندي کول او وژل ؟ ایا د بندي سو او وژل سوو کورنیو، خپلوانو او عزیزانو به د خپلو دوستانو پر وژلو نه وي ژړلي؟ فکر وکړی څوک سته چي د پلار په وژنه خپه نسي، کمه مور ده چي د اولاد پر مرگ یې نه دی ژړلي ؟ او نور.. ..

که د نورو انسنانو د وژلو خبره یوه ساده، د قسمت او ازل برخه بولي، نو ایا سردارصاحب داودخان بیا تردې خبري (ازلي ) سر نوشته ټاکني لوړووو؟. که د خپل عمل سزا حق وي، هغه چي ده کرلي وه، هغه یې باید نه وای ریبلي؟ دې سلطنتي کورنۍ زیږولي غم به همیشه د افغان ولس پرکورمیلمه وای.

ښاغلي کاندید اکاډ میسن محمدابراهیم عطائی په "دافغانستان پر معاصریوه لنډه کتنه" کي د سردارمحمد داود د شخصیت پیژندنه داسي کوي او لیکي چي:" داودخان د شخصیت په درو ناروغیو اخته انسان وو.

اول: د" نارسیس "په مرض، یعني ځان ترهرچا لوی په نظر ورتلی.

دوهم : د"ایگوسانتریک "چي ځان یې جامع اکمالات باله یا د علم مرکز.

دریم :"سکزوید" یا درون گرا چي لس کاله یې ژوند په جلاوالي او مایؤسي کي تېر کړی وو، سخت دعقدو ډک انسان وو". خدای (ج)بخښلي عطائي صاحب داودخان خورا ښه پیژندلي وو، د شاه محمود خان د صدارت پروخت یو ځل غبرگ سرداران سردار محمد داودخان او ورویي سردار محمدنعیم خان خارج ته ولاړل دلته په کابل کي د سردارشاه محمود خان د صدارت پروخت، دویښوځلمیانو خوځښت، جمعیت وطن او جمعیت نداخلق سازمانونه فعال او د اخبارو نوښتنان سول.

د شامحمود خان د صدراعظمي په دوره کي د پارلمان د اووه مي دورې له پاره چي کوم انتخابات وسوه، هلته یو شمیر وطن دوسته روڼ اندو افغانانو و پارلمان ته لاره پیداکړه، د کابل په ښارکي د ښاروالي لپاره انتخابات وسول، د کابل په پوهنتون کي د محصلینو اتحادیه جوړه سوه، د آزادو اخبارونو نشرېدل پیل سوه د خلگو د ذهنیتونو په بیداره ولوکي د ځوانانو د نقش برجسته سو. دا هغه پر مختگونه وه چي په دربار(شاهي ارگ) د ننه د روڼ اندو او د مکراسی مخالف سرداري ورونه( سردارمحمد داودخان او سردارمحمدنعیم خان) ور باندي خوښ نه وه. دغو ازادیو د کور د ننه د سردار محمد داود خان او سردار محمد نعیم پام دې خبري ته را وگرځاوه، چي له وضعیته داسي معلومیږي ستاسي ناسکه کاکا شاه محمود خان غواړي ټول حکومتي چاري انتخابي کړي بیا به سردارمحمد داود خان او سردارمحمدنعیم خان له راتلونکي ونډي(صدارت)څخه بې برخي پاته سي. سردار محمد داود خان او سردارمحمدنعیم خان ته دا خبره یقیني وبرېښېده، مځکه ورته سره سول او د دوی پرشپه، په دغه وخت کي لا دوی په خارج کي وه، خو ډېر ژر دوی له خارجه څخه کابل ته راغلل. غلام محمد غبار د خپل تاریخ په ۲۵۳ص کي لیکي ترجمه:

" محمد داود خان صدراعظم د خپل اکا نادرشاه په شان په هغه خپل ځانګړي عصبانیت سره وویل: حکومت وغیري حکومتي جریدو خپریدو او حزبو ته اجازه نه ورکوي". د سردارداود خان او سردارنعیم خان کوښښ دا وو چې ظاهرشاه ته ځانونه نژدې کړي، هم داسې یې وکړل، څو په نتیجه کې د شاه محمود خان صدراعظم(خپل کاکا) په کابینه کې دوی ځانونه ورګډ کړه. څه وخت چې سردارمحمد داود خان د دفاع وزیر مقرر سو لمړی منفي کار او کمال یې دا وو د کابل پوهنتون د محصلینو اتحادیه یې رنګه کړه، دغلام محمدغبار د تښتوني کار ته یې لاس واچاوه خو پکښې ناکام سو. د پارلمان د اتمې دورې په انتخاباتو کې یې ګوتې وهل پیل کړه. د پارلمان د اتمې دورې په انتخاباتو د داود خان د لاس وهنو پر ضد جمیعت وطن او ندای خلق سازمانو نو په ګډه یوه مظاهره وکړه. سردار محمد داود خان ډېر ژر د دې سازمانونو فعالین ونیول، بندیان یې کړه. یو شمیر د دغو بندیانو څخه بیله دوسیې لرلو د سرکاري کورنۍ لخوا د جوړې کړې محکمې د پریکړې په حکم د (۱۴) کلو دپاره په وحشت، زجر او عذاب کې په زندانو کې تیرکړه. د سردار محمد داود خان دا عمل یې د ده د نورو اعمالو په شان د نافذه قانون، د ده د وظیفوي صلاحیت خلاف، د افغانیت، اسلامي احکامو او بشریت یو ضد عمل بلل کېدای سي. د مثال په توګه دغه کسان یې بندیان کړه: میرغلامحمدغبار، عبدالرحمن محمودی، عبدالحی عزیز، میرمحمد صدیق فرهنګ، براتعلي تاج، غلام سرورجویا، عبالقیوم رسول، علی محمد خروش، فتح محمد خان فرقه مشر، سلطان احمد، نصرالله یوسفي، غلام فاروق اعتمادي، امان الله محمودی، محمد ابوبکر، عبدالحلیم عاطفی، علی احمد نعیمي، محمد رحیم محمودی.

سر بیر پر دې سر دار محمد داود او سر دار نعیم په شریکه د پورته ذکرسوو سازمانونو ډېر پاک نفسه غړي یې بیله د لیله ونیول بندیان کړل، بل د کور یا ارګ د ننه یې د صدر اعظم شاه محمود خان یا خپل د پلار میرې زي ورور په خلاف د پا د شاه محمد ظاهر خان نظر خراب کړ او بلا خره پدې چلو سردار محمد داود خان ځان صدراعظمی ته ځان ورساوه. په همدې توګه یې ډېرافغانان ترور، مسموم او لادرک کړل. د محمدآصف آهنګ خبري وې.

سوال دادی ایا پورته اشخاص انسانان، افغانان او مسلمانان نه وه؟ کورنۍ، او لادونه، ښځې او دوستان یې نه لرل؟ او په دې خاوره او هیواد کې یې د افغانانو په صفت د اوسیدو، کار، خبرو او سیاست حق نه لاره؟. او خپل سردارمحمودخان او یا بل واکدار ته د بل افغان د وهلو، بندي کولو او وژلو حق د کوم ځایه ورکړل سوی وو؟ پورته خلګو څه کول؟ خبري یې کولې، مقالې یې خپرولې، مظاهره یې کړې وه، بس نو مرګ یې سرداري کورنۍ ته روا وو؟.

ښاغلي د اکا د میسني کاندید محمد ابراهیم عطائی په خبل اثر:" د افغانستان پرمعاصر تاریخ یوه لنده کتنه" کی یو ځل بیا لیکي، د شاه محمودخان د صدارت د وختونو د دموکراسی د زوال په باب ترهر بل چا د سردار محمد داود خان نقش اساسي بولي داسي:
"علاوه پر دې سردار محمد داود خان چي د دېکتاتورۍ پلاروو، د سپه سالار په وړاندی یې مشکلات ایجادول او شدید سبوتاژ ئې مخته اچولی وو، " ص۲۴۵ البته د سپه سالارڅخه مطلب سردارشاه محمود خان دي. پر پورته یاد کړل سوو منورینو یو ډېر شمېر نور دویښو زلمیانو مخکني غړي د هیواد زده کړي وال دروښانه فکر لرونکي شخصیتونه، څوک په لس، شپږ، پنځه او څلورکلو دپاره د کابل او کندهار کي په زندانو کي وا چول بیله دې څخه چي کوم جرم یې کړی وي، او یو شمېر نورئې تبعید هم کړل. بندیان کوم څوک چي د سردار محمد داود خان له زندانه ژوندي راووتل ډیرو له هغوی څخه خپل نورمال حالت دلاسه ورکړی وو، ما لیکونکي ډېر له دغو بندیانو څخه له نژدې لېدلي دي. لکه: فیض محمد انگار، محمدعالم بڅرکی، حاجي محمدحسین هوتکي، محمدانورخان څگزي، عبدالهادي خان توخي، غلام جیلاني خان ا لکوزی، قاضي بهرام خان، قاضي عبدالصمدخان، او نور تبعید سوي لکه: محمدرسول پښتون..... دغبار په تاریخ کي په ۲۴۱ص کي د زیاتو نومونو ذکر سوی دی.

سنارېوی اخیردربارهء سرداردواد خان:

د سردارمحمد داود خان په باب، له واقعیتونو سره مخالفو نظروالو ته ښاغلي ډاکترعبدالقیوم خان چي د محمد ظاهر شاه په پاچهي کي د کورنیو چاروزیر، د ښووني او روزني وزیر، د صدارت مرستیال او سنۍ سپین ږیرې په خپلو یاداښتونو کي په ۱۳۵۲هجري کي ډېرسم او په زړه پوري جواب لیکلی دی خدای دي وکړي دوی (ښاغلو) لوستی وي.

عبدالقیوم خان لیکي: لکه چي زما عقیده او نظروو د سرداردواد خان او د هغه د اعمالو په هکله د ښاغلي وزېر نظرهمدغسي دی. د پخواني صدراعظم ډاکتر عبدالظاهرخان ورور ډاکتر عبدالقیوم خان یوه لیکنه په دې ورستیو کي د اینه افغان مجلې په ۱۱۵ او ۱۱۶گڼه۱۳۸۸ هجری کال کي نشر ته سپارل سوي ده.دا لیکنه داهمیت وړ، باوري، د قیقه او ټولو هغو چاپلوسانو ته غاښ ماتونکی جواب ورکوي چي پر سردار محمد داودخان د میکر اوښکي تویه وي. ټوله لیکنه چي په درې ژبه ده نه را نقلوم او نه ترجمه کوم خو مفهوم او خاص، خاص ټکي به یې ضرور را نقل او ترجمه کړم تردې عنوان لادی لیکنه سوېده:

وزیر عبدالقیوم خان لیکي " څو ورځي مخکي ( لیکونکی: مانا د داوخان د کودتا په شپه یا سبا) مي یوه آمریکایي دوست راته تلیفون وکړه را ته وئي ویل :د افغانستان د (شاهي جمهوري) درته مباره کي وایم. ، ، ، ،. ما وخندل او له ځانه سره مي وویل لکه چي دې کور خرابې بیا ډېر چېنلي دي او د معمول په شان غرق او په بله دونیا کي دی. لږ وروسته و پوهېدم چي سړی په ټینګه او ربښتیا را ته وائې : څو د قیقي مخکي مي د سردار داود خان د کودتا یولنډ خبر له ( بې بې سي ) رادیو څخه وا وریدی. زماڅخه یې د تشریح او بیان لاره ورکه کړه او ماهم نه غوښتل چي بحث له ده سره اوږد کړم. یوازي مي وویل: کور آباد، د داسي یوه خطري خبرتیانه، په کاوه بای یانه شکل ټوکي څخه دي، مطلب دي د(جمهوري شاهي) څخه څه وو او ولې دي د شاهي کلمه د جمهوری سره وتړل؟ هغه په خنداراته وویل:، ، ، ، ډېره بخښنه غواړم. ما باید نوموړې خبره په دې ډول سره نه وای درته واضح کړې. خو باېد اضافه کړم چي دغه بد عادت مي ستاسي په هیواد کي زده کړې وو. ځکه موږ په کابل کي او سیدونکو خاریجانو هر سیاسي حرکت په هغه زمانه کي وشاهي کورنۍ ته منسوب کاوه، فکر مو نسوای کولاې چي یو حرکت دي هلته د شاهي مقاماتو بیله اجازې سرته ورسیږي. بعضو له موږ څخه حتی د ببرک کارمل کړني لا د افغانستان شاهي کمونیست حرکت باله. لطفاً له ګناه راتیرسه... زه دهم هغه عادت له مخي د شاهي لفظ دجمهوریت سره پیوندوم...

له نوموړي مي مننه وکړه او تلیفون مي کښېښود، په سیلاب دغمونو کي ډوب سوم. ولاحول ولا، مي وویل.. .. چي دا څه محشر جوړ سو؟.. داودخان... کودتا... جمهوریت... ؟ تر اوس مي د دې د موکراسي له کټوري څخه یو ځاڅکی هم نه دی چېښلی، چي له مایوسی او ترخې د یکتاتوری سره مخامخ سوم دا څه ظلمونه دي چي پر دې بیچاره خاوره نازل کیږي؟.. .. . پوهان وایي عصاب خرابې، قهر او خفګان د خوب مانع ګرځي، پس بیداري د چورت سبب، کشکي هم داسي وای. د هغه مقولی څخه یوازي خوب الوتل زما بد بخت په نصیب سو. خدای (ج) سته فکر کول حرام او خوب څوشپې نه وو. له څه وخت لپاره مي ماغزه فلج او بلکل یې کار پریښود. او کله چي یې بېرته کارهم شروع کړی ټول د ګمان فشاروو نه د فکر کمال، خیال او ګمان هم د مملکت پرراتلونکي کړن لاره او په هغه کي دلیوني سردارداود پر نقش!!

څو افغانان چي زما د کور پرشا وخوا او سېدل هره ورځ یې زما کور ته تشریف راوړی. څوشپې او ورځي سره کښېنستو جلا، جلا مو ارزولې. لاکین د معلوماتو د لږوالي په وجه په یوه مطلقه تیاره

کي روان وو، د آمریکا په اخبارو کي هم دوې ورځې وروسته یوازي د نیویارک تایمز او واشنگتن پوست په اخبار کي څو لنډي جملې ولیکل سوې.

دا کور خرابي امریکا زموږ دې حیاتي او تاریخي واقعي ته په هیڅ ارزښت قائل نسول. ته وا چي هغه یې د شورویانو سره د"دیتانت" له لاري یوه طبعی قرباني بلل، اگاهانه چوپتیا ئې غوره کړه. د سیاست مدارانو او لیکونکوعلاقه یې د لېدونکو او تماشاچیانو څخه زیاته نه وو. نو یوطرفه ته د آمریکا بېعلاقه توب بل لوري ته د کابل پر خبرو بندیز او نه لاس رسی زموږ مجلسونه، ارزوني را بې خوند کړې. د مولانا رومي د مثنوي پر بنیاد چي وائي :(ړندو په مطلقه تیاره کي د پیل په تعریف او ارزونه لاس پوري کړه). د سردارمحمد داود خانه دي عمل ته یو شمېر هغه هم خوشحال وو، چي پلرونه یې کلونه سردارمحمد داود خان په زندانو کي ساتلې وو، هغوی بیا هم له ما نه بختوروو. ځکه چي د ژوند ټولي چاري یې ساده گي احاطه کړي وې. پرون د پاچا سره وو او نن د داود خان سره. هغوی نن په خپلو ساده دلایلو هر وخت وائي چي هر څوک چي خرسي زه یې ځل یا پلانه یم.. . شاید سبا د بل ځل یا پالانه سم.

کاشکي په دې شان لوړ والی بیله ښه والي ما ته هم برابر سوې وائې. زه څنگه په اساني سره کولاې سم چي ووایم، هر تر بور چي راځي ښه دي راځي.... او یا پرواک سپور تر بور ته پر له واکه لوېدلي تربور باندي ترجیح ورکړم ؟ زما په باور دغه ټول د کاکا زامن واک لرونکي خدایان نعوذبالله وو. هر یوه له دوی څخه په نوبت پردې قوم حکومت کړی دی. پاچا په خپل وار او د واکه لیري کړل سوو سردارانو په خپل وار سره !!.... او مبالغه به نه وي که ووایم چي تر۸۰ فیصدو ډېر د نن ورځي زموږ نفوس حکومت نه دی لېدلې، چي د دې درو کاکا زامنو لخوا دي په شکل د شکلونو کنترول سوې نه وي. د افغانستان تاریخ وروسته له انقلابه ددې کورنی سقوط دی. د هغې ورځي څخه غم انگیزه، تسلط، .... د کاکا د زامنو.. زموږ د لیکوالو او لیکونو ۲۴ ساعته مصروفیت گرځیدلی دی.

هوښیار ملتونه هغه دي چي ( امر، پاچا او ولس مشر) په ځان، کورنی، قوم، قبیلې، سیمي، مذهب او ژبي پوري نه تړي. دوی پر ملت حکومتونه کونکي په ملت اړه لري، د ملت هر وگړی حق لري د دوی کار، رفتار، ښیگڼو، بدیو، اشتباهاتو او لاسته را وړنو باندي بحث او لیکني پر وکړي. که یې څوک یوازي په ځان، کورنی او قوم پوري تړي نو هغه بیا د کورنی مشر یا دیوه قوم مشر به نه د ولس مشر. هغوی چي د کوم کس په لیکنو کي تېر وتني ویني هغوی ته گوته ونسي یا یې جوړي کړي. مگر هیڅوک دي تلاښ نه کوي چي(امر، پاچا او ولس مشر) " قُرغ"(۱) کړي.

وزیر صاحب عبدالقیوم خان لیکنه غزوي، څلوښیت کاله پخوا کله چي به د داود خان نوم یاد سو زموږ د وطندارانو به اندامونه رپېږدېدله. د ۲۵ کلني په عمرکي لانه وه چي د سېزاري.. .. په شان د هغه وخت د ننګرهار چي اوس محال درې ولایت ځیني جوړ دي ده حکمراني چلول او د لیوني(۲) سردار لقب یې وګټی. کورنی، افغان ولس، جهان او پخواني پاچاه محمد ظاهرخان تولو سردارمحمد داود خان د یوه لیوني په نوم سره پیژندی

او دا د... سیزار.... په ډول آوازه یې د پلرونو په ملک یعني انګریزو کي هم خپره شول. راغلم، ومي لېدل، او فتح مي کړل. څه له ږوږه ډک، غښتلي سرونه د صافیو د قوم د مشرانو په هغه خاوره او وینوکي لوټونه ووهل. او په زرها کورنی په هغه غم لړلیو کلیو کي بې کوره شول. او د څونه غښتلي قوماندان نوم دې لوی قوماندان په وینو تویولو کي وګټی. د پیښي بیان یې لا نه وولیکلی چي دصافي قوم مشران یې پېري په غاړه، پروږه په خوله د حیواناتو په ډول پر څلورو دربار ته دعجز، ملا متیا منلو، او بخښي غوښتو په هدف د کاکا زوی (محمد ظاهر) ته پیش کړه.

هغه وخت چي سردار محمد داود خان د مرکزی قوا وو قوماندان وو، عوام خلګ څه چي وزیران ځیني بېږدل. د وخت وزیرانو ته یې آمرونه کول او حتی د حاضری خاني یې ورقیده ولې. د صدارت پروخت یې په تلیفوني آمرونو په سلهاو انسانان زندانو ته ولویدل. لیکونکی:( فکر کوم د وزیر صاحب مطلب د لسهاو تنو له بندي کولو څخه د ویښ زلمیان مخکني غړي او مترقي ملي شخصیتونه وي، چي د سردار محمد داود خان په یوه تلیفون کولو بندیان کړه سوه.) د محبس لوړ پوړو مامورینو به په افتخار سره ویل چي دجزأګانو شګلونه مو د نازیانو څخه زده کړي دي.

کشر ورور محمدنعیم خان یې هم لا(۲۵) کلنی عمر پوره کړی نه وو چي په روم کي د افغانستان د لوی سفیر په حیث واستول سو. دا ارستوکرات صاحب د هغو ښه چانس والو څخه وو، چي د نهم ټولکي کاغذ ئې لا په لاس نه وو راوړی. که چیري موسیولینی د هغه له شتون سره د سفیر په حیث مخالفت نه وای کړی تر کلونو به هلته سفیر پاته وای. خو موسیولیني وویل چي دا شیر خوره د سفیر په صفت نسي منلای. بیا هم ژر وزیر او د کابیني غړی سو او په کابینه کي یې د ممتهن رول لاره. نو به مي د ده هغه د امتحان اخیستلو صحنه راپیاد سول. چي یوه ورځ خدای (ج) بخښلي استاد عزیزالرحمن خان سردار محمد نعیم پر نقل ګیرکړی. استاد په ډېر لوړ اواز ورته وویل :" او نعیم، شرمت نمي اید که با ګردن لګلک مانندت از پهلو فیلت نقل میکنی. " کله چي سردارمحمد نعیم د خارجه چاروزیر سوو، د آمریکا او نوروغربي هیوادو مرستي یې جلب نسوای کړای. نوهغه وو

چې د شوروي سره یې دوستي ټینګه کړه. دغو دوو وروڼو سردارمحمد داود او سردارمحمدنعیم په مشوره سره د مسکو په لمن کي ځان او هیواد ور وا چاوه.

بیله شکه د اوسنۍ افغانستان د شاته پاتوالي اساسي عاملین دغه درې د کاکا زامن محمد ظاهرشاه، سردارمحمد داود او سردار محمد نعیم وه. او دا به ډېره ګناه او جفأ وي که څوک یو له دغو درو څخه یو تر هغه بل ښه یا خراب وبولي. یا د یوه په منځ ته راتلو او بل له منځه تلو خوښ و اوسي. " او د تعجب ځای دا دی لاسته خلګ چې سرودونه ورته لولي.. .. بلې وزیرصاحب عبدالقیوم خان دا درې سردارن هر یو ظاهر خان، داود خان او نعیم خان ترما څه چې تر موږ ټولو نورو ښه له نژدې پیژندل.

د خپلي لیکني په دوام وزیر عبدالقیوم خان بیا لیکي :"یوه د کاکازوی وروسته له ۳۹ کالو پاچهې کولو ځان ستړې احساساوه له منځه وزي او ځای یې بل تازه نفسه، په وینه ور ته تږې د کاکا زوی نیسي. دغه دوهم ځل قدرت نیونکي د کاکازوی به هر وخت پاچاه په غیری د مکراتیکو روابطو د وزیرانو او صدراعظمانو سره نوماوه. څنګه چې قدرت د ده لاسته ولوېدی بیله محکمې له پرېکړې یې تیر صدراعظمان زندان ته واچول او وزیران یې په خپلو کورنو کي په نظر بندې محکوم کړه. ما چې همیشه د سلطنت په مقام کي د قدرت د تمرکز څخه شکایت کاوه. پدي وجه مي، موږ د وخت په قانون اساسي کي هم د پاچاه فصل یوغیري قانوني فصل باله او هر وخت مي انتقاد داوه.

سردارداود خان دریاست جمهورۍ پرچوکې د ناستي سره صدراعظمې او د کابینې یو درځن مُهمي چوکې د خپلي چوکي سره وتړلې. قانون اساسي یې په دې بهانه او پلمه د منځه یوړی چي پوره د موکراتیک نه دی. د هغه پر ځای یې خپل سرې مرکزي کمیته او ځان د انتصابي جمهوررئیس، یادول، خود کوزه، کوزه ګر، هم ګل کوزه رامخته کړل. په حقیقت کي دغه چالاکه د اکازامن همدغه کوي او هم هغه کوي.....په رښتیا سره زموږ د بیچاره قوم سره هغه نارواوي چي د ویلو نه دي وه سوې.....قسم چي بې خیره زوی خو یې اقلاً په دغه یوه صنعت، د سیاسي شعبده بازی په صنعت کي بلا کوي....

دلمړی برخه پای

salamwatanam@gmail.com